# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Human rights | حقوق بشر |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعی

۱۵ جنوری ۲۰۱۳

# په افغانستان کي د یرغلگرو لښکرو
# د بشري ضد او جنگي جنایتو حقوقي شننه
# ۱

## سریزه

د امریکاد متحدو ایالاتو دولتمشر یا جمهور رییس ، بارک اوباما، د کندهار د پنجوایي اولسوالی د زنګاوات د الکوزو او نجیبان په کلو کي د امریکایي عسکرو له خوا زموږ د مظلومو کلیوالو د وحشیانه وژني په اړه وویل:« دا وژنه خواشینونکي او لړزونکي ده؛ خو د امریکایي لښکرو د لوړ او بې ساري کرکتر استازیتوب نه کيي...»[۱] د امریکا د دباندیو چارو وزیري، هیلري کلینټن، د زنګاوات و نه بخښوونکي قتل عام ته د اشاري په ترڅ  کي وویل:« موږ تول داسي نه یو.» په افغانستان کي د ناټو قواوو عمومي قومندان، جنرال جان الن، هم په بګرام هوایي اډه کي د امریکایي عسکرو له خوا د قرآن مجید د سوځلو پر مهال ورته بیان کړئ ؤ:« دا کارونه زموږ استازیتوب نه کيي. موږ تول هغه څوک نه یو، چي دغو عسکروکړي دي.» تر دغو نه هېرېدونکو جنایتو څه موده مخکي د امریکا د دفاع وزیر، لیون پنیتا، هم د کندهار په میوند اولسوالی کي د عامو کلیوالو( دوی په نظر وسله والو طالبانو) د بدن له پري سوو غړو سره د امریکایي عسکرو د وحشتناکو او شرموونکو عکسو په باب داسي وویل:« موږ هغه څوک نه یو، چي تاسي یي په دې عکسو کي ګورئ.»

« موږ هغه څوک نه یو» غولوونکی عبارت وار دواره د ۱۹۶۸ع کال د مارچ پر شپاړسمه، د امریکایي عسکرو له خوا د ویتنام په مي لای **(My Lai)** نومي سیمه کي د کوچنیانو، ښځو او سپین ږیرو په ګډون د څلورو سوو(۴۰۰) ملکي ویتنامیانو د وحشیانه وژني په اړه، د اشغالګرو امریکایي قواوو د قومندان، جنرال ویلیم ویستمورلنډ **(General William Westmoreland)** په وینا کي استعمال سو، چي دا دئ له هغه وخته تر اوسه هر وخت او هر چیري په هر استعمارځبلي هیواد کي د یرغلګرو پوځو د نه وحشتناکو بشري ضد او جنګي جنایتو پر مهال تکراریږي.[۲]

انګرېزي یرغلګرو په نونسمه پیړۍ کي زموږ پر خپلواکه او سرلوړي خاوره دري پلا( ۱۸۳۹ - ۱۸۴۲ع، ۱۸۷۸ - ۱۸۸۰ع او ۱۹۱۹ع ) ناروا او ظالمانه یرغل وکړ؛ او په هر وحشیانه یرغل کي(کي یي) د دې ځنځیر ماتوونکي هیواد و بیوزلو او مظلومو خلګو ته د سر او مال درانه تاوانانه واړول. سره له دې یي هر وار په بې شرمی او سپین سترګی سره ادعا کوله، چي برتانوي پوځونه د افغانانو د امنیت، ترقی او سوکالۍ په خاطر و افغانستان ته تللي دي.

په۱۸۹۷ع کي د برتانوي استعمار نامتو ایډیالوګ - جوزیف چمبرلین(**Joseph Chamberlain**) و خپلو استعماري نخشو ته د انساني او مترقي پوښ په ور اغوستلو سره استدلال کاوه، چي د انګلستان امپراتوري«د تصاحب

يا مځکو لاندې کولو د منطق» پر اساس نه، بلکې د «د وجيبې د منطق » پر اساس جوړه سوې ده؛ او هغو هيوادو ته يې امنيت، سوله او نسبي سوکالي راوستې او لا يې راولي، چې پخوا يې دا ښېګڼې ګرسره نه پېژندلې. تر شاوخوا يوې پېړۍ وروسته دا دئ په نسبتاً بېله بڼه د اوسنيو امريکايي مشرانو په ويناوو کې د چمبرلېن د همدې استعماري نظريې پراخ انعکاس ګورو؛ د مثال په توګه د امريکا د متحدو ايالتود دباندنيو چارو د پخوانۍ وزيرې- مادلين البرايت ( Madeleine Korbelová Albright ) په يوې وينا کې داسې لولو: «امريکا د نړۍ يوازنۍ ستر او پياوړې ملت دئ؛ او دې استثنايي ځانګړتيا و دې ځواکمن ملت ته دا واک ورکړئ دئ، چې د امپرياليزم ښه او ګټوره بڼه پر مخ بوزي.»د امريکا اوسني دولتمشر، بارک اوباما، د عراق په ظالمانه جنګ کې د خپلو پوځيانو د ستاينې په مراسمو کې وويل:« د پخوانيو امپراتوريو پر خلاف، موږ د مځکو يا زېرمو ترلاسه کولو په خاطر قرباني نه ورکوو. موږ ځکه دا قرباني ورکوو، چې دا کار پر ځای او پر حق دئ.»[٣].

په دې ترتيب ګورو، چې د استعماري نخشو مدافعان او مزدوران د خپلواکو ملتو و بې رحمانه اشغال، ځبلو او لوټولو ته په يوه او بله بڼه د ښېګڼو، معقول او برحق کار په سترګه ګوري؛ او د خپلو يرغلګرو لښکرو پر تورو او کرغېړنو جنايتو د تېروتنې، ناپامۍ، ناروغۍ يا خورو ورو پېښو نومونه اېږدي. د دوی په نېز( نزد) د سولې، امنيت، ترقۍ او سوکالۍ سپېڅلي ملايکې چيرې او بشري ضد يا جنګي جنايتونه چيرې. په خواشينۍ سره د روښانه حقايقو د مسخ کولو او تحريف دا لړۍ تر اوسه جاري ده.

په دې لنډه، خو هر اړخيزه ليکنه کې د حقوقي اسنادو او منطقي دلايلو په وړاندې کولو سره زباتوو، چې د بې ګونا (ګناه) افغانانو، په تېره بيا د ډيورنډ د منحوسي او مردودې کرښې په دواړو خواوو کې د سرلوړو او خپلواکې مينو پښتنو عامي او پرله پسې وژنې تېروتنه، ناپامي، ناروغي يا خورې ورې پېښې نه، بلکې د امريکايي او ايتلافي لښکرو هغه وحشتناک بشري ضد او جنګي جنايتونه دي، چې زموږ پر خپلواک او وياړلي هيواد د هغو له ظالمانه يرغل او يوولس کلن اشغال سره نه شلېدونکې اړيکې لري؛ او تر هغه وخته به جاري يي، چې په دې استعمارځبلي مېنه کې د نړۍ او سيمې د استعمارګرو دولتو، ګاونډيو هيوادو او مزدورو ډلو ټپلو استعماري يرغلونه، تېل سوې جګړې او خاينانه لاسوهنې رواني يي. له لومړۍ او دوهمې نړيوالې جګړې څخه را نيولې بيا تر ويتنام، افغانستان، عراق، ليبيا، سوريې او فلسطين پورې، هيچيرې د دغه راز بشري ضد او جنګي جنايتو مخه نده نيول سوې؛ او نه يې څوک د مخنيوې وس لري.

ليکنه په څلورو برخو کې تنظيم سوې ده. په اوله برخه کې د بشري ضد او جنګي جنايتو حقوقي مفاهيم شنل سوي دي؛ په دوهمه برخه کې **د روم اساسنامې د احکامو له مخې د امريکايي او ايتلافي لښکرو د بشري ضد او جنګي جنايتو و متشکله عناصرو ته ځغلنده کتنه سوې ده؛ په دريمه برخه کې** د امريکايي او ايتلافي لښکرو ځينې بشرى ضد او جنګي جنايتونه د روم اساسنامې له مسجلو احکامو سره پرتله سوي دي؛ او په څلرمه برخه کې د دغه راز جنايتو پر بېلابېلو عواملو او انګېزو اوږدې خبرې کيږي. د طرحه سوو موضوعاتو په اړه تر ځينو تيوريکو، مقايسه يي او تحليلي بحثو وروسته د ليکنې و نتيجې ته رسيږو، چې د ټولو څېړل سوو مطالبو کُلي او عمومي تصوير وړاندې کيږي.

## لومړۍ برخه:

## د امريکايي او ايتلافي لښکرو بشري ضد او جنګي جنايتونه

د ليکنې په لومړۍ برخه کې و دې ارزښتناکې حقوقي پوښتنې ته جواب وايو، چې د مظلومو افغانانو پر خلاف د امريکايي او ايتلافي لښکرو جنايتونه د څه دلايلو له مخې تېروتنه، ناپامي، ناروغي يا خورې ورې پېښې نه، بلکې په

بشپړه او دقیقه مانا بشري ضد**(Crimes against Humanity)** او جنګي جنایتونه**(War Crimes)** دي؟ خو دې پوښتنې ته تر جواب ویلو مخکې ګټور، بلکې ضروري ګڼو، چې د ځینو معتبرو حقوقي اسنادو په رڼا کې د بشري ضد او جنګي جنایتو د حقوقي مفاهیمو په اړه څه نا څه تیوریک مالومات وړاندې کو تر څو درانه لوستونکي د شنل سوو موضوعاتو د سموالي او ناسموالي په باره کې په خپله روښانه، ازاد او عیني قضاوت وکي:

د نورمبرګ (د ۱۹۴۵ع کال د نومبر له شلمې څخه د ۱۹۴۶ع کال د اکتوبر تر اولې پورې) او توکیو( د ۱۹۴۶ع کال د اپرېل ۲۹مه) د محاکمو پر اسنادو سربېره د جینیوّا یا ژنیو په کنوانسیونو او ځینو نورو معتبرو حقوقي اسنادو کې د بشري ضد او جنګي جنایتو په اړه پراخې خبرې سوې دي، چې ټول یې په ګډه د وسله والو شخړو او منازعو په بین المللي حقوقو کې د ارزښتناکو سرچینو په توګه کارېږي.[۴] له دې کبله چې په دې وروستیو لسیزو کې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د جګړو او تصادماتو بېلابېلو پېښو او حالاتو د بشري ضد او جنګي جنایتو تعریف، متشکله عناصر، ډولونه، جزاوې او ډېر نور جزییات هم تر ډېره حده بدل کړي دي، بېځایه نه ده په دې لنډه لیکنه کې یوازې په هغه ارزښتناک حقوقي سند اِستِناد وکو، چې د بشري ضد او جنګي جنایتو د بېلابېلو ډولو او حالاتو په اړه یې جامع احکام تسجیل کړي دي. دا نوی سند د جزا د بین المللي محکمې**(International Criminal Court)** **هغه** اساسنامه ده، چې د روم اساسنامې**(Rome Statute)** په نامه شهرت لري. دا اساسنامه د یو سل و شپېتو(۱۶۰) دولتو له خوا د ۱۹۹۸ع کال د جولای پر اوولسمه تصویب سوې؛ او د ۲۰۰۲ع کال د جولای پر اوله نافذ سوې ده. که څه هم د ځینو نورو بین المللي مؤسسو په شان د دې محکمې اداره هم د ځواکمنو غربي دولتو په لاس کې ده؛ خو سره له هغه هم د« بشري حقوقو»،« دیموکراسۍ » ،« قانونواکۍ » او« عدالت » نړیوال مدافع (د امریکا متحده ایالتو) تر اوسه د هغې له غړیتوبه ډډه کړې ده. ځینو نورو لوېدیځو دولتو که ظاهراً د دې محکمې رسمي غړیتوب تر لاسه کړئ هم دئ، خو په عمل کې و هدفو او صلاحیتو ته درناوی او اعتنا نه کیي. تر هغه وخته، چې په محکمه کې یوازې د بېوزلو افریقایي هیوادو یا ځینو په اصطلاح نافرمانه دولتو جنګي مجرمین و محاکمې ته بېول کیږي؛ او زموږ د عصر تر ټولو بې رحمه جنګي جنایتکاران لکه اریل شرون، نتنیاهو، بوش، چیني، بلېر او داسې نور ازاد ګرزي، و دغه راز محکمې ته د خپلواکې، بې پرې او عادلانه محکمې خطاب کول، له انصاف او حقانیت څخه لیرې خبره ده. سره له دې هم، روم اساسنامه د بشري ضد او جنګي جنایتو د بېلابېلو حالاتو د پېژندنې په اړه د بین المللي بشري حقوقو تر ټولو نوی او ګټورسند بلل کیږي ، چې دلته یې تر دوو بېلو عنوانو لاندې، د ځینو غټو ټکو یادونه کوو:

### الف ) بشري ضد جنایتونه

روم اساسنامې د خپلې اوومې (۷) مادې په لومړي پاراګراف کې، بشري ضد جنایتونه داسې تعریف کړي دي:« د دې اساسنامې د هدفو او مخسدو دپاره «بشري ضد جرمونه» د لاندې عملو په مانا دي، چې د ملکي خلګو پر خلاف د یوه پراخ او سیستماتیک شعوري برید د یوې برخې په توګه، ارتکاب سوې یي:

الف ) وژنه یا قتل؛

ب ) ورانکاري؛

ج ) مریی کول؛

د ) د خلګو تبعیدول یا جبري لیږدول؛

هـ ) د بین المللي حقوقو له اساسي قواعدو څخه په سرغړونې سره د خلګو بندي کول یا له جسمي ازادۍ څخه د بې برخې کولو نور سخت او ربړونکي شکلونه؛

و ) شکنجه یا ځورَونه؛

ز ) جنسي تېرى، جنسي مریی کول، جبري بدلمني( فحشاء)، جبري اومیدواره کول، جبري شنډول (عقامت) یا د دغه راز جنسي زورزیاتي نور شکلونه؛

ح ) د سیاسي، نژادي، ملي، قومي، کلتوري، مذهبي، جنسي عواملو او انګېزو له مخې (لکه څنګه چې د دې مادې په دریم پاراګراف کې تعریف سوي یا نورو هغو عواملو او انګېزو له مخې، چې په دغه پاراګراف کې د مندرجو جرمو او یا د دې محکمې تر واک لاندې جرمو په تړاو په بین المللي حقوقو کې ناجایز پېژندل سوي دي) د یوې ځانګړې ډلې یا عامو خلګو ازارول؛

ط ) د اشخاصو جبري تَریتم کول؛

ی ) نژادي جلا ساتنه( اپارټایټ/ اپرتاید)؛

ک ) په بین المللي ډګر کې نور ورته جرمونه، چې انسان ته لوی عذاب یا د وجود و فکري یا جسمي روغتیا ته جدي زیان رسیږي.[۵]

د اوومې مادې په دوهم پاراګراف کې د لومړي پارګراف د ټولو مندرج جرمو تعریفونه بیان سوي دي. دلته یوازي د لومړي پاراګراف د هغو دوو حقوقي تعریفو متن را اخلو، چې د دې لیکنې له مضمون سره نیژدې ارتباط لري.

د دوهم پاراګراف په (الف) فقره کې پر ملکي خلګو عمدي برید و داسې تګلارې ته ویل سوئ دئ، چې په لومړي پاراګراف کې پېشبیني سوي عملونه، د یوه دولت یا سازمان د پالیسۍ له مخې، څو واره ارتکاب سوي یې. که په ساده ژبه و وایو، د اوومې مادې په لومړي پاراګراف کې درج سوي جرمونه یوازي هغه مهال بشري ضد جنایتونه بلل کیږي، چې په ارتکاب یا کولو کې(کې یې) دغه دوه متشکله عناصر تحقق ومومي:

- د ملکي وګړو پر ضد مندرج جرمونه باید د یوه دولت یا یوه سازمان د پالیسۍ یا تګلارې پر اساس ارتکاب سوي یې(که څه هم د دغه راز دولتي یا سازماني پالیسۍطراحان رسماً نه یې پېژندل سوي) یا یې د یوه حکومت یا ډیفاکتو واکمنۍ له خوا وکولو ته اجازه ورکړل سوې یې یا یې پرکولو سترګې پټې سوي یې.

- د ملکي وګړو پر خلاف ډول ډول **جنایتونه** باید پراخه او سیتماتیکه بڼه ولري. یاني څو څو واره ارتکاب سوي یې.[۶]

د جزا د بین المللي محکمې د روم اساسنامې د اوومې مادې د لومړي پاراګراف په « ط » فقره کې د اشخاصو د جبري تریتم کېدو موضوع د همدې مادې د دوهم پاراګراف په « ط » فقره کې، داسې تعریف او تفسیر سوې ده:

« د اشخاصو جبري تریتم کېدل د یوه دولت یا سازمان په وسیله، اجازه، ملاتړ او رضایت د اشخاصو د نیولو، بندي کولو او تښتولو په مانا دي، چې وروسته یې اوږده موده له قانوني مصونیت څخه د بې برخي کولو په مخسد، د بندي کېدو له ابلاغ او د ژوند او ځای ځایګي په اړه له مالومات ورکولو څخه هم ډډه کیږي.»[۷] یاني شخص په پیل کې د یوه دولت یا سازمان په وسیله، اجازه، ملاتړ یا رضایت نیول کیږي؛ بندي کیږي یا تښتول کیږي؛ او بیا یې له قانوني مصونیت څخه د بې برخي کولو په خاطر پر بندي کېدو خوله پټیږي؛ او حتا د ژوند او ځای ځایګي په اړه یې له مالومات ورکولو څخه هم ډډه کیږي.

د جزا د بین المللي محکمې د روم اساسنامې پر دې روښانه حکم سربېره، له نن څخه څلور شپېته کاله مخکې، د بشر د حقوقو د نړیوالي اعلامیې په نمه( ۹) ماده کې هم د خپلسر نیولو، توقیفولو یا شړلو د مخنیوي په باب خورا صریح بیان راغلئ دئ. دا ماده د ملګرو ملتو و ټولو غړو ته په لنډ، خو څرګندو ټکو داسې لارښوونه کیي:« هیڅوک باید له خپلسر نیولو، توقیفولو او شړلو سره مخامخ نسي.»[۸]

---

**لمنلیکونه**

[1] Emily Schultz, CNN Senior White House Producere, "**White House on Afghanistan shooting**", March 11, 2012: http://whitehouse.blogs.cnn.com/2012/03/11/ white-house-statement-on-afghanistan-shooting/

[2] Dan DeWalt, "**American Atrocities: Not Who We Are? Really? So Then Who in the Hell Are We?**", Information Clearing House, n.d.: http://www.informationclearinghouse.info/article31262.htm

[3] Ben Schreiner, "**Afghanistan: US press withdraws**", Asia Times Online, Jan 6, 2012: http://www.atimes.com/atimes/South_Asia/NA06Df01.html

[4] B. M. Klimenko, V. F. Petrovsky and Yu. M. Rybakov, **A Dictionary of International Law**. ed. Saifulin Murad, Trans. from Russian(Moscow: Progress, 1986) 59 - 59; D. I. Feldman et. al., **International Law**, ed. Prof. G.I. Tunkin. English translation from the Russian, ed. Muran Saifulin, Cand. Sc. (Law), ( Moscow: Progress Publishers, 1986 ) 512 - 13.

[5] United Nations, Rome Statute of the International Criminal Court, in force on 1st July, 2002, 3 - 4: http://www.icc-cpi.int/NR/rdonlyres/ADD16852-AEE9-4757-ABE7-9CDC7CF02886/283503/RomeStatutEng1.pdf

[6] —, **"Crimes against humanity",** From Wikipedia, the free encyclopedia: http://en.wikipedia.org/wiki/Crimes_against_humanity

[7] United Nations, Rome Statute of the International Criminal Court, in force on 1st July, 2002, 5: http://www.icc-cpi.int/NR/rdonlyres/ADD16852-AEE9-4757-ABE7-9CDC7CF02886/283503/RomeStatutEng1.pdf

[8] United Nations, The Universal Declaration of Human Right , adopted on 10 December, 1948: http://www.un.org/en/documents/udhr/

پاته په بله برخه کي